## Loonwaarde

*د loonwaarde پدې مانا ده چې تاسو د یو بل کس په پرتله چې عین کار پرته د IBN د ملاتړ او لارښوونه سره ته رسوي څنګه پرتله کیږئ. موږ معمولاً اندازه ټاکنه (پرتله کول) ستاسو د کاری په ځای کې پرته له دې چې تاسو خبر شئ سر ته رسوو.*

د loonwaarde ټاکنې په مهال موږ لاندنې مسایل په نظر کې نیسو:

- د کار سرعت: ایا تاسو په ګړندی ډول، عادي یا ورو کار کوئ؟
- کیفیت: ایا تاسو د کار په مهال لږ تېروتنې کوئ یا تل باید ستاسو کار کنترول شي؟
- کاري وړتیا: ایا تاسو کولی شئ په خپلواکه توګه کار وکړئ یا تاسو مرستې ته اړتیا لرئ؟

وروسته له اندازه ټاکنې څخه له تاسو سره خبرې کیږي، ستاسو د trajectregisseur ستاسو د کار مدیر او د loonwaardemeter (دا د ښاروالۍ یو کارکونکی دی) سره مرکې ته موږ loonwaardegesprek وایو.

د دې مرکې په جریان کې، موږ ستاسو د کار، د کار سرعت، د کاري کیفیت او ستاسو د کمارنې وړتیا په اړه خبرې کوو. ددې مرکې څخه وروسته به موږ ستاسو د loonwaarde پو شو. موږ به دا اندازه په فیصدي توګه روښانه کړو. دا فیصدی د IBN او د ښاروالۍ لپاره د معاش د لګښت د سبسیډۍ لپاره مهمه ده . د loonwaarde به ستاسو په معاش کې بدلون منځ ته نه کړي.

د ښاروالۍ د loonwaardemeter غواړي په دې پوه شي چې تاسو د خپل راتلونکي ګام لپاره څه شي ته اړتیا لرئ. دا ممکن د IBN په یو شرکت وي او یا یو بل شرکت غیر له IBN. موږ به په ګډه وګورو چې IBN څنګه کولی شي تاسو سره مرسته وکړي.

د loonwaardemetingen بیلګې

۱ مثال: تاسو ته یو ساعت وخت درکړل شوی دی ترڅو دوه تولګې پاک کړئ که چیرې تاسو دا کار په یو ساعت کې په سمه توګه ترسره کړئ ، بیا دا د ۱۰۰ ٪ په توګه لیدل کیږي. که دا کار ستاسو ۱،۵ (یو نیم) ساعت وخت ونیسي، بیا ستاسو د loonwaarde 75% دی.

۲ مثال: تاسو IBN د تولید په برخې کې کار کوئ . یو عادي کارګر په هر ساعت کې ۱۰۰ کارتنه په خپلواک ډول ډک کوي او هیڅ تېر وتنه هم نه کوی. د کارګرد loonwaarde ۱۰۰ ٪ دی. یو بل کارګر ورته کار کوی، مګر هغه دوه چنده وخت ته اړتیا لري. هغه په یو ساعت کې ۵۰ کارتنه ډک کوي او دوه ځله تېروتنه کوي. ددې کارګرد loonwaarde ۵۰ ٪ دی.